

د تأسيس کال: ۱۳۰۰ لمريز، دوشنبه ۱/ذوالحجة الحرام/۱۴۴۷ هـ ق، ۲۸/غويى/ ۱۴۰۵ ل کال - ګڼه (۱۱)

Monday-18-May-2026 Issue: 11

د مطالبو سرليکونه



هلمند سيند دوديزه کلنۍ مشاعره؛ په شاندارو مراسمو تر سره سوه!

د هلمند ولايت مرکز لښکرګاه په مرکزي سټېډيوم کې د روان ۱۴۰۵ ل کال د ثور مياشتي پر ۲۴ مه نېټه، د پنجشنبې په ورځ ماز دیګر مهال، د هلمند سيند دوديزه کلنۍ مشاعره د ځانګړو او پراخو مراسمو په ترڅ کې پيل سوه.

په دې ستره آدبي او فرهنګي مشاعره کې د هلمند والي الحاج مولوي امان الدين منصور، د اطلاعات او فرهنګ وزارت د هنر او فرهنګ معين الحاج مولوي عتيق الله عزيزي، امنيه قوماندان الحاج ملا امين الله زبير، د استخباراتو رئيس الحاج قاري محمد ظاهر مبشر، د اطلاعات او فرهنګ وزارت د ترنم او ترانو رئيس مولوي امان الله مستغفر، د هلمند د اطلاعات او فرهنګ رئيس الحاج حافظ عبدالباري راشد، رئيسانو، د ګڼ شمېر ملکي او نظامي ادارو مسئولينو، علماء کرامو، شاعرانو، نعت ويونکو، ترانه ويونکو، د هيواد له بېلابېلو ولايتونو راغلو شاعرانو او زرونو تنو د شعر او آدب مينه والو ګډون کړی و.

مشاعره د قرآنکريم د څو مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل سوه.

لومړی د فرهنګ او ګرځندوی آمر مولوي حيات الله يوسف د پيليزي وينا پر مهال د مشاعرې ټولو ګډونوالو، شاعرانو، علماوو، نعت ويونکو، د هيواد له بېلابېلو ولايتونو راغلو مېلمنو، د ملکي او نظامي ادارو مسئولينو او ټولو فرهنګپالو ته د ښه راغلاست تر څنګ وويل: دا دوديزه مشاعره هر کال د اطلاعات او فرهنګ وزارت په لارښوونه او د هلمند د اطلاعات او فرهنګ رياست په هڅو تر سره کېږي او الحمدلله! سږ کال هم يووار بيا په پراخه کچه پيل سوې، چې په دې مشاعره کې به شاعران، اديبان، نعت ويونکي او ترانه ويونکي خپل شعرونه، ترانې، نعتونه او آدبي زمزمې له ګډونوالو سره شريکي او د آدب مينه والو آدبي تنده به پرې خړوبه سي.

د هغه په خبره، د افغانستان اسلامي امارت تر بيا واکمنېدو وروسته، دا پنځمه هلمند سيند دوديزه کلنۍ مشاعره ده، چې د بشپړ امنيت او ورورولۍ په فضا کې تر سره کېږي او د دغسي فرهنګي ناستو په برکت، د ولس او نظام ترمنځ اړيکي لا پياوړي سوي، چې د تېر شل کلن اشغال پر مهال، هم د هيواد شاعرانو، ليکوالانو او ترانه ويونکو د خپلو حماسي شعرونو او ترانو له لاري د افغانانو ترمنځ د يووالي روحيه ژوندۍ ساتلې وه او تل يې د قلم او شعر په ژبه د خپل ولس او عقيدې دفاع کړې ده.

د اطلاعات او فرهنګ وزارت د هنر او فرهنګ معين وويل، ډېر د خوښۍ ځای دی چې نن د هيواد له بېلابېلو ولايتونو شاعران، اديبان او ليکوالان په ډاډمن امنيتي چاپېريال کې هلمند ته راغونډ سوي دي.

د هغه په قول، هلمند نه يوازي د شعر، ادب او فرهنګ له اړخه ځانګړی تاريخي حيثيت لري، بلکي د دين، جهاد او قربانۍ په ډګر کې يې هم تل وياړلي کارنامې تر سره کړي دي او د شاعرانو، ليکوالانو او آديبانو تېر جهادي او فرهنګي فعاليتونه يې وستايل او ويې ويل، د دوی شتون، په دغسي مشاعرو کې د افتخار ځای دی، ځکه دوی د شعر او آدب په ژبه غواړي د کړېدلي ولس دردونه بيان کړي او ولسونه د اسلامي نظام، يووالي او قربانۍ ارزښتونو ته متوجه کړي، د ه زياته کړه، ليکوالان او شاعران بايد د خپل قلم له لاري د اسلامي نظام لاسته راوړني، پرمختګونه، خدمتونه او د ولسونو آرمانونه په هنري او آدبي بڼه تر نړۍ والو او راتلونکو نسلونو پوري ورسوي، ځکه همدا شعرونه او آدبي آثار دي چې د ملتونو تاريخونه، قربانۍ او وياړونه تر پېړيو ژوندي ساتي.

د مشاعرې په جريان کې د هيواد له بېلابېلو ولايتونو، د هلمند ولايت د ګڼو ولسواليو او لېرو پرتو سيمو څخه راغلو شاعرانو، نعت ويونکو او ترانه ويونکو خپل شعرونه، نظمونه، نعتونه او آدبي ټوټې ګډونوالو ته وړاندي کړې، چې ګډونوالو يې تود هرکلی وکړ، د شعر او آدب مينه والو يې آدبي تنده پرې ماته کړه.

په وروستيو کې د هلمند د اطلاعات او فرهنګ رئيس ټولو راغلو مېلمنو، شاعرانو، علماوو، ځوانانو او د آدب مينه والو څخه ځانګړې مننه وکړه او ويې ويل، د هلمند سيند دوديزه کلنۍ مشاعره، يوازي يوه آدبي ناسته نه، بلکي دا د افغان ولس د فرهنګي يووالي، فکري بيدارۍ او آدبي ارزښتونو د ژوندي ساتلو يو مهم سنګر دی.

د هغه په قول، د اطلاعات او فرهنګ رياست هڅه کوي، تر څو د هلمند د آدب، فرهنګ او تاريخي ارزښتونو د پياوړتيا له پاره لا پراخ پروګرامونه جوړ کړي او ځوان نسل د قلم، آدب او مطالعې خواته وهڅوي، دا چې د هلمند خاوره د شاعرانو، ليکوالانو او آديبانو کور دی او د همدې خاورې له غېږې تل د علم، آدب او حماسې ستر شخصيتونه راټوکېدلي دي او په خبره يې، د اسلامي نظام تر سيوري لاندي، د امن او ورورولۍ دا فضا د دې لامل سوې، چې نن زرونه کسان په ډاډه زړه په دغسي لويو آدبي مجلسونو کې ګډون کوي، خپل فکرونه شريکوي، د شعر او آدب له لاري د ولسونو ترمنځ؛ د ميني، يووالي او اسلامي فکر پيغام خپروي.

عرفات جمال: کور به هيوادونه دي له مهاجرينو سره ناوړه چلند نه کوي او نه دي هم په اجباري ډول ستنېدو ته مجبوروي



د رياست الوزرا مقام د دفتر عمومي رئيس ډاکټر ملا عبدالواسع د افغانستان له پاره د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ له رئيس عرفات جمال سره کتلي دي.

ارګ په يوه خبرپاڼه کې څرګنده کړې، په دې کتنه کې د افغان کډوالو د ستونزو او اجباري راستنېدني، د اسلامي امارت له لوري د دوی د ښه مديريت او همدارنګه په نژدې راتلونکي کې افغانستان ته د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ د عمومي رئيس د سفر په اړه بحث او خبري سوي دي.

عرفات جمال په دې کتنه کې د راستنېدونکو کډوالو د ښه مديريت او همدارنګه د افغانستان له پاره د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ سره د مهاجرينو په برخه کې د اسلامي امارت د لازمو همکاريو قدرداني کړې او همدارنګه يې افغانستان ته د ملګرو ملتونو د کډوالو نړۍ والي اداري د عالي کمېشنر راتلونکی سفر د افغان مهاجرينو د حقونو د ملاتړ، د نړۍ والو مرستو د جلبولو، د اسانتياوو د زياتوالي او د هغوی د ستونزو د حل په برخه کې ګټور بللی دي.

د هغه په قول، په ۲۰۲۵ مېلادي کال کې د نړۍ په کچه، افغانستان ته زيات مهاجرين ۴مخ

ايراني سفير: له افغانستان سره په يو شمېر په برخو کې همکارۍ پراخوي

د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائيوي رئيس ملا عبدالحق همکار، په کابل کې د ايران له سفير علي رضا بيکدلي سره کتلي دي.

د افغانستان برېښنا شرکت په خپره سوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې کتنه کې د ۵۰۰ کېلو ولټه برېښنا لېږد پر طرحي، بيا نوې کېدونکي انرژۍ، د پانګوني فرصتونو او د ګډو همکاريو پر



پراختيا خبري سوي دي.

د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائيوي رئيس ويلي، د افغانستان د انرژۍ سکټور، په بېلابېلو برخو کې د پانګوني له پاره مناسب فرصتونه لري او اړينه ده د دواړو هيوادونو ترمنځ، ګډې همکارۍ لا پراخي سي.

هغه د ۵۰۰ کېلو ولټه برېښنا لېږد مزي غځولو پر طرحي هم خبري کړي ۴مخ

پر سياسي او سيمه ييزو موضوعاتو خبري وسوې



د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي، د ناروې شاهي دولت له خوا د افغانستان له پاره له نوي ټاکل سوي ځانګړي استازي بيورن هانسن سره په کتنه کي، پر سياسي او سيمه ييزو موضوعاتو خبري کړي دي.

باختر اطلاعاتي آژانس ته د بهرنيو چارو وزارت د وياند دفتر د معلوماتو له مخي، په دې کتنه کې هانسن ويلي، ناروې له افغانستان سره تاريخي اړيکي لري او تل يې هڅه کړې ده ۴مخ

د کتاب او مطالعې دودولو په موخه يو ورځنی نندارتون جوړ سو



د روزګان ولايت د اطلاعات او فرهنګ رياست، د فرهنګ او ګرځندوی آمريت له لوري، د فطرت خصوصي لېسې په انګړ کې، د کتاب، مطالعې او علمي ويښتيا د دودولو په موخه، يو ورځنی د کتاب نندارتون جوړ سو، چې په کښې د زده کوونکو، ښوونکو، د کتاب مينه والو، ځوانانو او د ياد رياست کارکوونکو پراخ ګډون کړی و.

دغه فرهنګي نندارتون د مطالعې فرهنګ د پياوړتيا، د ځوان نسل د فکري روزني او د کتاب ارزښت ته د لا ډېري پاملرني په موخه تر سره سو، څو ځوانان ۴مخ

په فراه کې د اجارې له پاره د مځکو د وېش لړۍ پيل سوه

په فراه ولايت د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست مسئولينو ويلي، د دغه ولايت په شيخ آبو نصر فراهي بندر کې د اجارې له پاره د سپينو مځکو د وېش لړۍ پيل سوې ده.



د فراه د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رئيس مولوي پير محمد حليمي باختر اطلاعاتي آژانس ته ويلي، په ياده لړۍ کې د ۷۲۳ شرکتونو، هستوګنيزو خونو او هټيو له پاره سپيني مځکې د قانوني طرزالعمل له مخي، په اجاره ورکول کېږي او په دغو ځايونو کې د ۴۰ شرکتونو، ۶۱۹ ۴مخ

د څه باندي ۳۵ ټنه ناقانونه توکو دوار دولو مخه ونيول سوه



د هلمند ولايت د فرعي ګمرکونو رياست مسئولينو ويلي، د تېرې يوې اوونۍ په ترڅ کې يې په مرکز لښکرګاه، بهرامچې او ګرمسېر ولسواليو کې، د څه باندي ۳۵ ټنه ناقانونه توکو د واردولو مخه نيولې ده.

د ياد ولايت د فرعي ګمرکونو رئيس حاجي حقمل باختر اطلاعاتي آژانس ته ويلي، يو شمېر کسانو هڅه کوله، چې د ۱۸ باروړونکو موټرونو له لاري ۳۵ زره او ۳۴۸ کېلو ګرامه خوراکي او غير خوراکي توکي له قانوني مراحلو او د محصول له ۴مخ

بېلابېل موضوعات

څلور امامان؛ قدم په قدم!

ليکوال: عبدالله فاراني (اشتياق احمد رح)   ژباړه: مولوي محمد اکبر   ۴۲ برخه

يمن ته ورسېدی، نو امير يوه دنده ور وسپارله، نوموړي ورکړل سوې دنده په ډېره ښه توګه تر سره کړه، چي په دې سره د يمن امير خوشحاله سو او ده ته يې ترقي ورکړه، يو څو ورځي وروسته يې نوره ترقي ورکړه او د ده ښه کار کول مشهور سول، په هغه وخت کي د يمن څخه د عمرې جماعت مکې ته راغی، هغوی د امام شافعي يادونه وکړه، په دې ډول د ده شهرت نور هم ډېر سو.

په يمن کي تر يو څه وخت تېرېدو وروسته، بغداد ته ولاړی، هلته يې د امام محمد شيباني څخه فقه ولوسته، امام محمد د امام ابو حنيفه تر ټولو ستر شاګرد و، امام شافعي وايي: زه امام مالک او امام محمد د استادانو په حيث منم.

يووار يې وويل:

ما د امام محمد رحمه الله څخه د يو اوښ بار په اندازه حديثونه واورېدل.

نوموړي به دا هم ويل:

که مالک د فقه ترمنځ، د انصاف څخه کار واخلي، نو هغوی ته به څرګنده سي، چي دوی د امام محمد په څېر فقه نه ده ليدلې، که هغه نه وای، نو زما ژبه دومره نه خلاصېدله، ټول علماء په فقه کي عراقيانو ته محتاج دي، ټول عراقيان د کوفيانو محتاج دي او ټول کوفيان د امام ابو حنيفه محتاج دي او ما د هغوی د شاګرد امام محمد په څېر عالم نه و ليدلی، کله چي هغه قرآنکريم وايي، زه يې اورم، نو داسي احساس کوم، چي قرآنکريم د ده په ژبه را نازل سوی دی، ما چي د کوم عالم څخه کومه فقهي يا علمي پوښتنه کړې ده، د امام محمد پرته د هغوی پر څېرو د ناخوښۍ اثر ښکاره سوی دی، ما تر امام محمد په علم کي بل ښه عالم نه دی ليدلی.

امام محمد هم د خپل دې لائق او فائق شاګرد ډېر خيال ساتی، د هغه ډېر درناوی يې کاوه، امام محمد د دين له ورزده کړي سره – سره، د هغه مالي مرسته هم کوله.

ابو حسان زيادي ويلي:

ما د امام محمد رحمه الله د هيچا دومره عزت کول نه دي ليدلي، څومره چي يې د امام شافعي رحمه الله کوله.

يوه ورځ امام محمد يو ځای د سفر له پاره پر سپرلۍ سپور سو، چي په دې وخت کي امام شافعي رحمه الله راغلی، امام محمد په همدې وخت د سفر اراده وځنډوله، د سپرلۍ څخه را کښته سو، کور ته راغلی او شپه له هغه سره پاته سو.

د امام شافعي رحمه الله آخري تعليمي سفر، په بغداد کي د امام محمد بن حسن شيباني رحمه الله پر درس ځای پای ته ورسېدی او د همدې ځايه امام صاحب د فقه او د خپلو اقوالو څخه يو کتاب په را ټول او ترتيب کړ، چي قول قديم ورته ويل کېږي.

حقيقت دادی چي بغداد ته تر راتګ وروسته، امام شافعي رحمه الله په علمي شهرت عام سو او يوې دنيا د هغه د علم فيض ترلاسه کړ. نوموړي لومړی ځل بغداد ته په ۱۹۵ هجري راغلی، دوهم ځل په ۱۹۸ هجري کي راغلی، په بغداد کي د اوسېدلو په دوران کي د ده په درس کي آديبانو ګډون کاوه.

حسن بن محمد زعفراني ويلي: ما خو څه، په هغه وخت کي هيچا هم د ده په څېر، عالم نه دی ليدلی.

الفضل زجاج ويلي:

کوم وخت چي امام شافعي رحمه الله بغداد ته راغلی، د هغه ځای په جامع مسجد کي څلوېښت – پنځوس علمي او درسي حلقې وې، امام صاحب به په يوه – يوه حلقه کي کښېناستی او ګډونوالو ته به يې حديثونه وراورول، نو په پايله کي ټولي حلقې يو ځای سوې، د ټولو څخه يوه حلقه جوړه، دا حلقه د امام صاحب حلقه سوه او په بغداد کي په ناصر الحديث سره مشهوره سوه.

په هغه وخت امام احمد بن حنبل هم د هغه څخه په ډېر آدب او احترام سره علم زده کاوه، يووار يحيی بن حصين د امام احمد زوی صالح ته وويل: ستا پلار نه شرمېدی، چي امام شافعي ۴مخ

اختری (قرباني) د څه له پاره کېږي؟

مولوي نورالحق "مظهري"

د اختري د وجوب له پاره ډېر حکمتونه سته، خو موږ يې يو څو داني ذکر کوو:

۱ – اختری کول، د ابراهيم عليه السلام سنت دي، موږ هم د هغه د سنت، په ژوندي ساتلو باندي امر سوي يو، لکه: رسول الله صلی الله عليه وسلم چي فرمايي:

ژباړه: ستاسو د پلار ابراهيم عليه السلام سنت دی.

۲ – د اختري په حلالولو کي؛ پر خپل ځان، اولاد، کورنۍ، دوستانو او مسکينانو باندي پراخي د رزق ده او دا کار د الله جل جلاله ډېر خوښېږي.

څوک چي له طاقت او توان سره، پر خپل اولاد باندي د رزق او روزۍ پراخي کوي، له خپلو خپلوانو او نورو مسکينانو سره مرسته کوي، دا کار د الله جل جلاله ډېر خوښېږي، له همدې امله د اختري په غوښو کي مستحب دادي چي درې برخي سي، يوه برخه يې انسان خپله له خپلو اولادونو سره وخوري، بله برخه يې خپلو اړو خپلوانو ته ورکړي او درېيمه برخه يې نورو بېګانه مسکينانو ته ورکړي.

۳ – د اختري په حلالولو باندي د الله جل جلاله شکر ادا کېږي، ځکه د دې تر څنګ چي د اختري په کولو باندي د الله پاک امر عملي کېږي، د الله تعالی د رضايت له پاره مالي لګښت او مصرف هم کېږي چي د الله جل جلاله د خوشحالۍ سبب جوړېږي.

۴ – د اختري په کولو باندي انسان ته ثواب په لاس ورځي، لکه: په فضائلو کي د اختري چي راځي: د اختر په ورځ کي تر بل هر عمل الله پاک ته د اختري حلالول ډېر خوښ دي او انسان ته د اختري د غوښو، ښکرونو، و ويښتانو او ښنګورو په مقابل کي ثواب ورکول کېږي او د اختري له لومړۍ څاڅکيويني سره، د انسان هره ګناه ورته بخښل کېږي.

[سنن ترمذي]

د تقليد شرعي حکم

پوهيالی عبدالله خان "سنګري"

پنځمه او وروستۍ برخه

عقلاً هم تقليد ثابتېدلای سي، ځکه اجتهاد يوه داسي ملکه (قوت) ده، چي ټولو خلکو ته نه حاصلېږي او ټول په اجتهاد باندي مکلفول، په هغه څه باندي مکلف کول دي چي په توان کي يې نه وي او په شريعت کي پر هغه څه باندي مکلفول، چي د انسان په توان کي نه وي، منع سوې ده، ځکه الله تعالی د سورة البقرة په ۲۸۶ نمبر آيت کي فرمايلي دي:

ژباړه: الله تعالی هيڅ نفس نه مکلف کوي، مګر په اندازه د طاقت د ده.

بل دا چي په اجتهاد مکلفولو کي حرج دی او په دين کي حرج مرفوع دی.

الله تعالی د سورة الحج په ۷۸ نمبر آيت کي فرمايي:

ژباړه: او په دين کي يې پر تاسو تنګي نه ده را وستلې او د سورة البقرة په ۱۸۵ نمبر آيت کي فرمايي:

ژباړه: الله تعالی پر تاسو اسانتيا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي او همدار نګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

ژباړه: په اسلام کي نه ضرر رسول سته او نه د ضرر مقابله په ضرر رسولو سره جواز لزي. (البيهقي،۲۰۰۳م)

موندني:

د تقليد موضوع د څېړني په بهير کي لاندي موندني او نتائج په لاس راغلل:

۱ – په عقيدوي مسائلو کي هر مسلمان په تفکر کولو باندي مکلف دی، د بل شخص پيروي کول روا نه دي.

۲ – هر شخص د دې توان او استعداد نه لري، چي د شرعي نصوصو څخه په مستقيم ډول حکم واخلي، نو بايد په عملونو او فرعي مسائلو کي د هغه شخص پيروي وکړي، چي د شرعي نصوصو څخه د حکم اخيستني وړتيا ولري.

۳ – دا هم په لاس راغلل چي شرعي نصوص (قرآنکريم او نبوي احاديث)، اجماع او عقل په تقليد باندي دلالت کوي.

۴ – د تقليد د ذم او بدۍ په اړه چي کوم نصوص راغلي دي، هغه د عقيدوي مسائلو اړوند دي، نه د فرعي مسائلو په اړوند.

مناقشه:

د څېړني په بهير کي دا واضح او روښانه سوه، چي د تقليد د تعريف په اړه او همدارنګه د يو مشخص او معين مذهب د پيروۍ په اړه اسلامي علماء کرام په يوه خوله نه دي، چي په لاندي ډول ورڅخه يادونه کوو.

– په عقايدو او اصولو کي تقليد: د اصولو څخه مقصد هغه مسائل دي، چي په هغه سره شخص په اسلام کي داخلېږي، لکه پر الله تعالی باندي ايمان راوړل، يوازي د الله متعال عبادت کول او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د رسالت تصديق.

د جمهورو علماوو په آند په ذکر سوو اصولو کي تقليد حرام او ناروا دی، پر هر مکلف مسلمان باندي واجب دي، چي د دې اصولو په دلائلو کي تفکر، تدبر او نظر وکړي، ترڅو په زړه کي يې ثابت او ځای نيوونکي سي، څو له کوچنۍ شبهې سره د مخ کېدو په صورت کي شکمن نه سي او په ايمان کي يې خرابي رامنځته نه سي.

– په فرعي مسائلو کي د تقليد د صحت په اړه علماوو لاندي نظريات درلودل:

– ظاهريه، معتزله او د اماميه څخه يوه ډله: په دې آند دي چي په فرعي مسائلو کي اجتهاد واجب او تقليد ناروا دی. دوی ويلي، پر هر مکلف باندي واجب دي، ترڅو د خپل دين د امورو په اړه، د ځان له پاره هڅه وکړي او په هغه څه باندي عمل وکړي چي د ده اجتهاد ورته رسېدلی وي.

– حشويه او تعليميه، د تقليد په اړه داسي نظر لري: تر مجتهدينو علماوو وروسته، په مسائلو کي تقليد واجب، اجتهاد او نظر جواز نه لري.

– د څلورو مذهبونو د زياتو پيروانو نظر، د تقليد په اړه تفصيلي و او دوی په دې آند وو، چي اجتهاد جائز او تقليد د مجتهد له پاره حرام، په امي او هغه عالم چي د اجتهاد اهليت و نه لري، واجب دي، ځکه الله جل جلاله د سورة النحل په ۴۳ نمبر آيت کي فرمايي:

ژباړه: له باخبرو خلکو پوښتنه وکړئ، که تاسو په خپله نه پوهېږئ. الله جل جلاله هغه چا ته چي نه پوهېږي امر کړی، چي د هغه چا څخه پوښتنه وکړي، چي د ده څخه پوه وي. په آيت کي د (فسئلوا) کلمه عامه راغلې، يعني پوښتنه وکړئ، ترڅو پوه سئ او مقلد په اصل کي په يوه يا څو مسئلو کي د شرعي حکم په اړوند پوښتنه کوي.

دلايلو ته په کتو سره دا څرګندېږي، چي د څلورو مذهبونو د پيروانو قول راجح او غوره دی، ځکه قرآنکريم، نبوي احاديث، اجماع او قياس پر دې باندي دلالت کوي، چي په امي او هغه عالم چي د اجتهاد اهليت و نه لري، تقليد واجب دي.

پايله:

د تقليد په اړه مو چي کومه څېړنه تر سره کړه، په پای کي لاندنۍ پايلي ته رسېږو:

– دا واضح او روښانه سوه، چي د خيرالقرون تر پای ته رسېدو وروسته، د مذهبونو پيروانو د ټاکلي مذهب پيروي رائج کړه، د مذهبونو امامانو هم له کور – کورانه تقليد څخه خلک منع کړي دي.

– د علماوو په اتفاق، هغه تقليد چي منع سوی، دادی چي د يو ټاکلي شخص اقوال د شرعي نصوصو په څېر وګڼل سي.

– دا هم معلومه سوه چي تقليد پر دوه ډوله دی، محمود او مذموم.

– د ټول امت په اجماع سره د الله تعالی معرفت او د هغه څه پېژندل، چي الله تعالی ته يې نسبت کول روا دی او د هغه څه پېژندل چي ده ته يې نسبت کول روا نه دي، پر هر مسلمان باندي واجب دي، چي د الله تعالی او د ده د صفتونو معرفت په تقليد سره نه سي راتلای.

مأخذونه:

قرآنکريم، د توبه سورت ۳۱ آيت، د آل عمران سورت ۱۹۰ آيت، د بقره سورت ۱۷۰ آيت، د مائده سورت ۱۰۴ آيت، د اعراف سورت ۳ آيت، د نحل سورت ۴۳ آيت، د بقره سورت ۲۸۶ آيت، د حج سورت ۷۸ آيت، د بقره سورت ۱۸۵ آيت.

ابن کثير،ا. (۱۹۹۹م). تفسير ابن کثير. (ج: ۱ص: ۴۴). بيروت: دارالطيبه.

ابوحبيب،س. (۱۹۸۸م). القاموس الفقهي لغتا و اصطلاحا. (ج: ۱،ص: ۳۰۸). دمشق: دارالفکر.

البيهقي،أ. (۲۰۰۳م). السنن الکبری (ج: ۱۰، ۱،ص: ۲۲۷). بيروت: دارالکتب العلميه.

الجوزيه، م. (۱۹۹۱م). اعلام الموقعين عن رب العالمين. (ج: ۴، ۶،ص ۱۸۷، ۱۹۲). بيروت: دار الکتب العلميه.

السجستاني،ا. (۲۰۰۹م). سنن ابي داؤد،. (ج: ۱،ص ۲۵۲). بيروت: دارالکتب العربي.

السليمي،ع. (۲۰۱۱م). أصول الفقه الذي لا يسع الفقه جهله. (ص: ۴۷۶، ۴۸۹). الرياض: دار ابن حزم.

النبهاني،ت. (۲۰۰۳م). اسلامي شخصيت. (ج: ۱، ص: ۲۰۶، ۲۰۷). کابل: دارالأمه.

زخيلي،و. (۲۰۰۵م) أصول الفقه الاسلامي. (ج: ۲،ص ۱۱۳، ۱۲۰). کويته: رشيديه.

هيئه الکبارالعلماء،ا. (۲۰۰۸م). الموسوعه الفقهيه الکويتيه. (ج: ۱۳،ص ۱۵۵، ۱۶۱). پشاور: الحقانيه.

پای

دورکي اعلانونه

دورکي اعلانونه

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د رفیع الله د عبدالولي د زوی او د حاجي شېرعلي د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0705748144

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د جان محمد د عبدالمتین د زوی او د حاجي ادریس د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0707060582

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د عبدالقادر رحیمي د محمد رحیم د زوی او د حاجي محمد رسول د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700361533

❋❋❋

دوې قطعې برېښنایي تذکرې چي د محمد نعیم، مجاهده د خان محمد د اولادونو، د بازمحمد او د محمد کریم، محمد فهیم د زامنو او د ملا امیر جان د لمسیانو په نومونو دي، ورکي سوي دي. هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0708885098

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د سعدالدین درویش د اختر محمد د زوی او د محمد ایوب د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0703838539

❋❋❋

څلور قطعې برېښنایي تذکرې چي د عبدالهادي کریمي، عتیق الله کریمي، د فضل محمد د زامنو او د ګل محمد. سکینه، صابره کریمي د محمد هاشم د اولادونو او د عبدالله د لمسیانو په نومونو دي، ورکي سوي دي. هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0701626683

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د ظاهر شاه ساحل د ندا محمد د زوی او د حاجي امیر محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0703893705

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د سید احمد زاهد د علي احمد د زوی او د جان محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700204001

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د محمد عیسی د محمد علم د زوی او د محمد افضل د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700551995

د دوهم مخ پاته: د څلورو امامانو...

به پر سپرلۍ سپور و او ستا پلار به د هغه ولونه نیولي وو، په پښو به ور سره روان و.

صالح د یحیی بن حصین دا خبره خپل پلار ته ورسوله، نو امام احمد بن حنبل رحمه الله وویل: ورسه او ورته ووایه! که ځان فقیه جوړول غواړې، نو د امام شافعي رحمه الله د سپرلۍ دوهم ول ته ونیسه.

حسن بن محمد زعفراني ویلي: امام صاحب بغداد ته راغی، نو موږ شپږ طالبان د ده درس ته ور روان سولو، احمد بن حنبل، ابو ثور، حارث نقالي، ابوعبدالرحمن، زه او یو بل طالب؛ د دې ټولو خبرو خلاصه دا راووتله چي امام شافعي رحمه الله په مکه مکرمه، مدینه منوره او بغداد کي علم وکړ، چي د هغوی له جملې د یو څو نومونه دلته لیکل کېږي.

محمد بن علي بن شافع، مسلم بن خالد زنجي، مالک بن انس، سفیان بن عیینه، ابراهیم بن محمد بن ابو یحیی، فضل بن عیاض، محمد بن حسن شیباني، داؤد بن عبدالرحمن، محمد بن عثمان بن صفوان، یحیی بن ابو حسان تینسي رحمهم الله او نور.

امام شافعي رحمه الله په ځوانۍ کي لا په فقه، فتوی، حدیث، تفسیر د خوبونو معنی، غشي ویشتنه او آس سپرلۍ کي دومره کمال ترلاسه کړی، چي ډېر مشهور سو.

د ده استادانو هم د ده د وړتیا اعتراف وکړ، تراوسه یې لا عمر شل کاله و، چي د ده استاد مسلم بن خالد زنجي ده ته د فتوی ورکولو اجازه ورکړې وه، عبدالرحمن بن مهدي د دې شاهدي ورکړه: امام شافعي رحمه الله د ډېر عقل څښتن دی.

نوموړي په مکه معظمه کي په اووه کلنۍ کي قرآنکریم یاد کړ، تجوید یې ولوستی، د ده د هغه وخت استاد قاري اسماعیل بن عبدالله بن قسطنطین مکي دی، هغه په ۱۹۰ هجري کي د ۹۰ کالو په عمر وفات سو.

نور بیا...

دورکي اعلانونه

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د سمیع الله اصولي د قدرت الله د زوی او د عبیدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700350265

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د ادریس د صدیق الله د زوی او د حاجي باران د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0708073256

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د محمد جان د عبدالقدوس د زوی او د محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0711732601

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د شفیع الله د عبدالله د زوی او د نجم الدین د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0705794650

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د عبدالاحد د نظام الدین د زوی او د حاجي عبدالکریم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0702254606

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د ادریس احمد د فیروزالدین د زوی او د عبدالحکیم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700971048

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د اول خان د عبدالرحیم د زوی او د عبدالصمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0704612924

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د نعمت الله د عبدالحیمد د زوی او د نیاز محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0703004547

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د خالد محمود شمشاد د عمر خان د زوی په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0708189126

❋❋❋

دوې قطعې برېښنایي تذکرې چي داحمد الله د نېک نظر د زوی او د غلام بشیر او اسدالله د فیض الله د زوی او د لالاخان د لسمیانو په نومونو دي، ورکي سوي دي. هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0701269532

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د عنایت الله د قدرت الله د زوی او د عبدالغفور د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0708949670

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د پای محمد احسان مل د ریدي ګل د زوی او د آدم خان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700069751

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د نسیمه الهام د عبدالوالي د زوی او د عبدالغني د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0701359519

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د مبین احمد رفیقي د علي احمد رفیقي د زوی او د ولي محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0771613704

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د یار محمد د جمعه ګل د زوی او د سنګین د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0703765613

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د محمد سعید فضلي د عبدالکریم د زوی او د فضل کرم د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700854781

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د نور آغا د عبدالرازق د زوی او د محمد صدیق آغا د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0700313787

شعري برخه
د طلوع رنګینې وړانګې

غزل

محمد پاچا "قادري"

دا هر راز جهان جهان دی دا جهان روضه ده
هر آواز د زړه سروز دی تار په تار فکري نغمه ده

❧❧❧

قاضي ایښي په کتار دي ډکي ډکي پیالې ډکي
په سینه کي یې چپه که دا ده عرشه ذائقه ده

❧❧❧

د شاهي مانۍ د لوري پر هندو لا رحمت اوري
دغه هار د بنده نه دی دا بې مثله معجزه ده

❧❧❧

د سپوږمۍ لهجې ته غوږ سئ په تیارو کي تلاوت کړي
ټوله ورځ پټه د یار څه پر تور تم سپینه لمبه ده

❧❧❧

دا انشاء ژبې د رنګه معنوي سېلاب بهېږي
ګرز – غبار غچي غچي کي الا الله یې فیصله ده

❧❧❧

هره کرښه دورانۍ ده هره کرښه مې غلجۍ ده
فرق یې نسته په احساس کي وه شعور ته لوسِکه ده

❧❧❧

"**محمد باچا**" غزلي که ساده دي که پېچلي
د کوڅۍ غوندي اودلي بند پر بند یې ثمره ده

غزل

بسم الله "غرنی"

ځیني کسان وګوره – ډېر ناځوانان وګوره
بې له حملې او د توبرې څخه بل کار نه لري
دوی بله لار نه لري

❧❧❧

اول د واره جار قربان وایي
خپل کار چي وکړي بیا نو وروسته خو جار جار نه لري
دوی بله لار نه لري

❧❧❧

په شخصي ګټو پسي تل ګرځي
بې شخصو ګټو دوی ته بل شی اعتبار نه لري
دوی بله لار نه لري

❧❧❧

هر کار کي ګټه د دوی چي تل وي
بس له جائز او ناجائز کاره انکار نه لري
دوی بله لار نه لري

❧❧❧

په غوره ژبه خلک تېر باسي
بې چم او فرېبه په ژوندون بل کار و بار نه لري
دوی بله لار نه لري

❧❧❧

پس له څو ورځو دوی "**غرنیه!**"
دغه دوه مخي په ټولنه کي هیڅ یار نه لري
دوی بله لار نه لري



طلوع افغان مدیریت له ټاکلي لیکنیز معیار سره سم، د لیکنو په اصلاح کې د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هیله کېږي، چې دا سپېڅلې پاڼې بې ځایه و نه غورځوئ!

د ګڼون کوونکو له پاره خبرتیا!

د طلوع افغان تاریخي خپرونه چې د هیواد په مطبوعاتي تاریخ کې ځانګړی ځای لري. که غواړئ چې د لمړیزکال په آخرکې د طلوع افغان تاریخي ورځپاڼې یو بشپړ کلکسیون ولرئ، په طلوع افغان ورځپاڼه کې ګډون وکړئ.

د ګډون کلنۍ بیه ۵۰۰- پنځه سوه افغانۍ، زده کوونکو او محصلینو ته د تصدیق په وړاندې کولو سره نیمه بیه ټاکل سوې ده. اداره

مسئول مدیر: بریالی "فیضي"
د تصحیح مسئول: حاجي عبدالله "ذاکري"
کمپوز او ډیزاین: نصیر احمد "صابر"
د مدیریت شمېره: ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزیع مدیریت شمېره: ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پته: علامه حبیبي واټ – اطلاعات او فرهنګ ریاست
د برېښنالیک پته: baryafaiz981@gmail.com

Founded in 1921 | ISSue:11 | Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتیاوي

قرارداد کوي

د کندهار ولایت، د عامې روغتیا ریاست په نظر کې لري چې د ۱۴۰۵ ل کال د لاندنیو دوو قلمونو بېلابېل قراردادونه ترسره کړي، چې ۱۵۳ قلمه طبي مصرفي مواد و قرارداد او بل (۴۱۰۰۰) زره د اکسېجن بالونونو قرارداد چې مشخصات یې په شرطپاڼه کې ذکر سوي دي. هغه شرکتونه چې د تدارکاتو پر قانون برابر وي او قانوني مشکل و نه لري، خپل غوښتنلیکونه دې د عامې روغتیا ریاست ته چې د رئیس عطاجان جامع پر مخامخ موقعیت لري، د یوویشتو کاري ورځو په جریان کې خپل غوښتنلیکونه وړاندې کړي. د اعلان د نشر نېټې څخه شرطپاڼه د ولایت مقام څخه ترلاسه کولای سي او د آفر خلاصېدو او داوطلبۍ نېټه د روان کال د جوزا میاشتي پر ۱۷ نېټه، د یکشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د کندهار ولایت مقام د غونډو په تالار کې ترسره کېږي.

کورونه په کرایه غواړي

د کندهار ولایت د پوهني ریاست اړوند، هغه مدرسې او مکتبونه چې دولتي تعمیرونه نه لري، په لاندي مشخصاتو سره د کرایې کورونو ته اړتیا لري:

۱–شهید عبدالمجید بابي ښوونځي، لس اطاقونه، درې تشنابونه، لویه ویاله، آخري سټاپ.

۲–شهید غلام فاروق نصرت لومړني ښوونځي، شپږ اطاقونه، درې تشنابونه، د چینایي شفاخانې، چونۍ.

۳–کارته نو ښوونځي، شپږ اطاقونه، درې تشنابونه، دریمه ناحیه، د بالا کرز سیمه.

۴–کوتل مورچه ښوونځي، ۲۳–اطاقونه، ۸ تشنابونه، د کوتل مورچې په سیمه کې.

۵–د حاجي امیر لالي ښوونځي، ۱۴ اطاقونه، د حکیم صاحب په اډه کې.

۶–حیات خان ښوونځي، ۲۷ اطاقونه، د نوراني مېنې په سیمه کې.

۷–الحافظیه دیني مدرسه، ۱۳ اطاقونه، اووه تشنابونه، د کابل شاه په سیمه کې.

۸–رحمانیه دیني مدرسه، ۱۲ اطاقونه، څلور تشنابونه، لویه ویالې له عمومي جادې سره.

۹–فیضیه دیني مدرسه، ۱۴ اطاقونه، اته تشنابونه، پیرو کلاچې په سیمه کې.

۱۰–مظهرالعلوم دیني مدرسه، ۱۴ اطاقونه، اته تشنابونه، لویه ویاله عمومي جاده.

۱۱–غوث الثقلین دیني مدرسه، پنځه اطاقونه، حاجي عرب المکي پلازې ته څېرمه.

۱۲–نوابیه دیني مدرسه، لس اطاقونه، شپږ تشنابونه، لویه ویاله، د حکیم صاحب اډې په سیمه کې.

۱۳–سلطان محمود غزنوي دیني مدرسه، شپږ اطاقونه، د نهمې ناحیې، د کوتل مورچې په سیمه کې.

هرڅوک چې په پورتنیو سیمو کې د یادو مشخصاتو مطابق د کرایې کورونه ولري، خبر ورکول کېږي چې د پوهني ریاست اړوند، د تهیه او تدارکاتو مدیریت ته د اعلان تر نشر وروسته، په یوویشتو کاري ورځو کې مراجعه وکړي.

پطرول پمپ خرڅوي

یو باب پطرول پمپ چې پر موازي (۵۰۰۰) پنځه زره متره مربع ځمکه جوړ دی، في متر په (۱۵۰۰) افغانۍ ټاکل سوی، چې د کندهار ولایت، د دامان ولسوالۍ، د کابل پر عمومي سړک موقعیت لري، چې د درو رهنمایانو له لوري په مبلغ ۳۰۰۰۰۰۰/۰ درې میلیونه افغانۍ قیمت سوی دی.

هر هغه څوک چې یاد پطرول پمپ غواړي، خپل غوښتنلیکونه دې د ۱۴۰۵ ل کال د غویي میاشتي د دوهمې نېټې څخه، بیا تر لسو ورځو پورې، د کندهار مرافعه محکمې حقوقو آمریت له خوا، تعین سوې هیئت ته وسپاري او یا دې پر ذکر سوې شمېره اړیکه ونیسي: 0704612031

د ورکي اعلانونه

څه وخت وړاندي د عینو مېني د ملکیت یو سند چې د نظر محمد نظري د حاجي نور علي نظر علي د زوی په نامه دی، د ملکیت نمبر یې (109)، موقعیت (F1-65) او د فایل نمبر (20376) ورک سوی دی. هر چا که پیدا کړی وي، د افکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او یا دي د ټیلیفون په دې شمیرو تماس ونیسي. 0700759196–0700305088

❋❋❋

د عبدالله د ولي جان د زوی په نامه د انصاف ولي د زراعتي چرګانو شرکت، خپله دغه (8796) نمبر چاپېریالي اجازه نامه ورکه کړې ده، د اعلان تر نشر وروسته د اعتبار وړ نه ده.

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چې د عبدالظاهر د وزیر خان د زوی او د خدای نظر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیدا کړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0707862998

❋❋❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چې د بلال احمد د شبر د زوی او د سراج الدین د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیدا کړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دې تماس ونیسي: 0709047962

(۱) مخ پاته: **عرفات جمال: کور به هیوادونه دي...**

په اجباري توګه راستانه سوي او د اسلامي امارت مسئولینو هغوی ته ښه ترتیبات نیولي دي.

د افغانستان له پاره د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ رئیس همدارنګه ویلي، سره له دې چې اسلامي امارت د راستنو سوو افغان کډوالو ښه هرکلی کوي، خو په افغانستان کې د کمزوري اقتصادي وضعیت، د جذب محدود ظرفیت او د نړۍ والو مرستو د کموالي، پر له پسې وچکالیو، زلزلو او د پاکستان د جګړې له امله افغانان او په ځانګړي ډول، اجباري راستانه سوي مهاجرین ډېري ستونزې لري.

هغه زیاته کړې، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنر د راتګ موخه، له افغان چارواکو او خلکو سره کتني، له نژدې د وضعیت لیدنه او پاکستاني لوری دې ته قانع کول دي، چې د افغان کډوالو د باعزته ستنېدو له پاره لازمي اسانتیاوي برابري کړي.

ورته مهال د ریاست الوزرا مقام د دفتر عمومي رئیس په دې کتنه کې ویلي، مهاجرت یوه نړۍواله، دوامداره او عمومي کشاله ده او پر افغانستان د یرغلونو له امله، ګڼو افغانانو په پاکستان، ایران او نورو هیوادونو کې د مهاجرت پر مهال، ډېري ستونزي او سختۍ ګاللي او لا یې هم ګالي.

د هغه په خبره، کور به هیوادونه دي له مهاجرینو سره ناوړه، سیاسي او انتقامي چلند نه کوي او نه دي هم په زور او اجباري ډول ستنېدو ته مجبوروي.

د ده په قول، هغه نړۍوالي اداري چي د مهاجرینو په برخه کي فعالیت کوي، یوازي په نصیحتونو او سپارښتنو دي اکتفا نه کوي او په جرئت دي هغو هیوادونو ته د ملامتیا ګوته ونیسي، چي له مهاجرینو سره ناوړه چلند کوي او د هغوی حقونه او نړۍوال قوانین تر پښو لاندي کوي.

د افغانستان له پاره د ملګرو ملتونو د کډوالو کمېشنرۍ رئیس په تورخم او سپین بولدک کي د فرضي کرښي هاغاړي، د افغان کډوالو سته ستونزو ته په اشارې ویلي، په اسلام آباد او کابل کي کي د دوی همکارانو له پاکستاني لوري او په کابل کي د پاکستان سفیر سره په دې اړه خبري کړي او هغوی ور سره د افغان کډوالو د یادو ستونزو د کمولو ژمني کړي دي.

(۱) مخ پاته: **ایراني سفیر: له افغانستان سره...**

چي په راتلونکي کي د انرژۍ تبادلې له پاره لازمي اسانتیاوي برابري سي.

ورته مهال د ایران سفیر ویلي، هیواد یې لېوال دی، چي له افغانستان سره د اقتصادي، سوداګریزو او انرژۍ په برخو کي خپلې همکارۍ پراخي کړي.

هغه زیاته کړې، د بیا نوې کېدونکي انرژۍ په برخه کي، د ګډو همکاریو د پراختیا له پاره ښه فرصتونه رامنځته سوي، څو په بېلابېلو برخو کي له افغانستان سره ګډ کار وسي او له دې لاري د سیمه ییزو همکاریو پراختیا ته زمینه برابره سي.

هغه د افغانسان برېښنا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس ته بلنه ورکړې چي ایران ته سفر وکړي او د ګډو همکاریو په تړاو، د تخنیکي بحث او اړینو اقداماتو په برخه کي پر وخت کړني ترسره سي.

(۱) مخ پاته: **پر سیاسي او سیمه ییزو موضوعاتو...**

چي د افغانستان په ثبات کي رغنده رول ولوبوي.

د هغه په خبره، په افغانستان کي د امنیت، له نشه یي توکو سره د مبارزې او په نورو برخو کي د پام وړ لاسته راوړني لیدل کېږي او اړتیا ده چي له نړۍوالي ټولني سره د اړیکو په عادي کېدو سره لا زیاتو همکاریو ته لاره هواره سي.

د هیواد د بهرنیو چارو وزیر هم، د ناروې له خوا له اسلامي امارت سره تر ۲۰۲۱ مېلادي کال وړاندي او وروسته د مثبتو اړیکو او همکاریو منته کړې او ویلي یې دي، په افغانستان کي د داخلي ثبات څخه باید اعظمي استفاده وسي او د افغانستان د حکومت له خوا رامنځته سوي پرمختګونه د همکاریو د لا پراختیا لامل سي.

(۱) مخ پاته: **د کتاب او مطالعې د ودولو په موخه...**

له کتاب سره لا نژدې؛ د علم، پوهې او سالم فکر پر لور وهڅول سي.

د ننداړتون د پرانیستني پر مهال، د اطلاعات او فرهنګ رئیس مولوي رحمت الله ریحان ګډونوالو ته وویل، کتاب د علم، شعور او روښانه راتلونکي اساس دی، او مطالعه د یوې بیداري ټولني د جوړېدو تر ټولو مهمه وسیله ده. د اطلاعات او فرهنګ ریاست مسئولین هڅه کوي چي د کتاب فرهنګ عام کړي، ځوان نسل د مطالعې په ارزښت پوه کړي او د علمي ودې له پاره لا ښه فرصتونه برابر کړي.

ریحان وویل، په دې ننداړتون کي د دیني، آدبي، تاریخي، ساینسي، تعلیمي او ټولنیزو برخو ګڼ شمېر کتابونه ننداري ته وړاندي سوي وو، څو زده کوونکي او ځوانان د خپلو اړتیاوو مطابق، ګټور کتابونه وپېژني او مطالعې ته لا ډېر تشویق سي.

ګډونوالو دغه ننداړتون، د علمي او فرهنګي ودې له پاره مهم و باله او څرګنده یې کړه، دا ډول پروګرامونه د مطالعې دود پیاوړی کوي، د ځوانانو فکري کچه لوړوي او له کتاب سره مینه زیاتوي.

هغوی د اطلاعات او فرهنګ ریاست د دې نوښت څخه مننه وکړه او غوښتنه یې وکړه چي دا ډول ننداړتونونه دې د ولایت په بېلابېلو ښوونیزو مرکزونو کي دوام ومومي.

که څه هم دغه ننداړتون یو ورځنی و، خو د زده کوونکو او ګډونوالو له پاره یې د کتاب ارزښت، د مطالعې اهمیت او د علمي پرمختګ پیغام لا پیاوړی کړ.

(۱) مخ پاته: **په فراه کي د اجارې له پاره د ځمکو...**

هستوګنیزو خونو او ۶۴ هټیو له پاره ځمکي د ځانګړي کمېټې له لوري، د لومړني بیو تر ټاکلو وروسته، په شفاف ډول په اجاره ورکول کېږي.

حلیمي له ټولو هېوادوالو، په ځانګړي ډول: سوداګرو او پانګه والو وغوښتل، چي په دې بهیر کي ګډون وکړي او د فراه تر څنګ، د نورو ولایتونو اوسېدونکي هم کولای سي، د قانون له مخې، یادي ځمکي په اجاره ترلاسه کړي او ټینګار یې وکړ، چي دغه ځمکي په دائمي ډول نه، بلکي د اجارې په بڼه، هغو کسانو ته ورکول کېږي، چي د آبادولو، پانګوني او ګټي اخیستني وړتیا ولري.

د هغه په قول، د دې پروسې له لاري به د صادراتو او وارداتو کچه لوړه، سوداګریز فعالیتونه به پراخ، د بارونو د انتقال او تخلیې چاري به منظمې، د کار زمینه به برابره او د دولت عواید به هم زیات سي.

(۱) مخ پاته: **د څه باندي ۳۵ ټنه ناقانونه توکو د...**

ورکړي پر ته، هلمند ته وارد کړي، خو د ګمرکونو د اړوندو نمایندګیو ګرځنده ټیمونو له لوري کشف او ضبط سول.

د هغه په خبره، د دغو توکو او موټرونو په تړاو ۳۰ تنه نیول سوي او تر لومړنیو څېړنو وروسته اړوندو ارګانونو ته سپارل سوي دي.

د هلمند د فرعي ګمرکونو ریاست ټینګار کړی، چي د ناقانونه سوداګرۍ او د توکو د غیر قانوني لېږد په وړاندي به مبارزه په جدي ډول دوام ولري، څو د قانون حاکمیت، اقتصادي نظم او د کورنیو عوایدو زیاتوالی تأمین سي.

ټولنیزې رسنۍ

Abdullah Bawari:

د مېرمني له پاره د خاوند سره نبوي آداب:

۱–د خاوند اطاعت کول (په هغه څه کي چي د الله تعالی نافرماني نه وي) سنت او ډېر اجر لري.

۲–د خاوند احترام کول او په درناوي ور سره خبري کول، سنت دي.

۳–د خاوند د خوښۍ خیال ساتل، سنت دي.

۴–د خاوند په کور او مال کي امانتداره اوسېدل، سنت دي.

۵–د خاوند د راتګ پر وخت، ښه استقبال کول (په خندا او خوشحالۍ)، سنت دي.

۶–د خاوند له پاره ځان ښایسته کول او پاک ساتل سنت دي.

۷–له خاوند سره نرمي، خوږې او مینه ناکي خبري کول، سنت دي.

۸–د خاوند د ستړیا په وخت کي د هغه خدمت کول او آرام ورکول، سنت دي.

۹–د خاوند رازونه پټ ساتل، سنت دي.

۱۰–بې ځایه شک او بدګماني نه کول، سنت دي.

۱۱–د خاوند د کورنۍ (مور، پلار، خپلوانو) احترام کول، سنت دي.

۱۲–د خاوند په غوسه کي صبر کول او خبره لویه نه کول، سنت دي.

۱۳–د خاوند د ستونزو پر وخت، ورسره مرسته او ملاتړ کول، سنت دي.

۱۴–له خاوند سره په مینه او خوش طبعۍ ژوند کول، سنت دي.

۱۵–د کور فضا آرامه، پاکه او خوشحاله ساتل، سنت دي.

اسامه ویاړ:

۱۵–عامي بهانې چي هسي به مو عمر ضایع کړي:

۱–اوس ناوخته سوی دی.

۲–زه ورته جوړ نه یم.

۳–وخت کم دی.

۴–دا کار زما له پاره سخت دی.

۵–نور خلک هم دا کار نه کوي.

۶–وروسته به یې وکړم.

۷–زه انګېزه نه لرم.

۸–شرایط مناسب نه دي.

۹–زه نه پوهېږم، څنګه پیل وکړم؟

۱۰–خلکو ته به کم راسم.

۱۱–مخکي مي هڅه وکړه او ناکام سوم.

۱۲–کافي وخت لرم، ولي عجله وکړم؟

۱۳–مالي امکانات کم دي.

۱۴–دا مناسب وخت نه دی.

۱۵–یوازي یم، مرسته او حمایت نه لري.

فرانسوی فیلسوف رینا ډیکارټ:

کله چي یو انسان له ماشومتوبه، د اوسپني په ځنځیرونو وتړل سي او غلام جوړ کړل سي، نو هغه بیا ټول عمر همدا ګمان کوي چي دا ځنځیرونه، د ده د وجود برخه ده او دی د تګ–راتګ له پاره هم همدې ځنځیرونو ته اړتیا لري.